سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)



# Faculty of Medicine in Dentistry

# غاښونو طب پوهنځی

## غاښونو طب پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې(ننګرهار) د غاښونو طب پوهنځي په (۱۵-حمل-۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر اساس د فعالیت جواز تر لاسه کړ او د ستوماتولوژي ډیپارټمنټ لپاره یې فعالیت او د محصلینو جذب پیل کړ.

د غاښونو طب پوهنځي تر دې دمه سلګونه تنه فارغان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې د هېواد په بېلابېلو روغتونونو او تحصیلي بنسټونو کې په خدمت بوخت دي.

د غاښونو طب پوهنځی د محصلینو د ښې روزنې په موخه عصري ۲۴ ساعته معالجوي او تدریسي روغتون، مجهز لابراتوارونه، څېړنیز مرکز، په عصري ټکنالوژۍ سنبالې تدریسي خونې، په انټرنیټي اسانتیاو برابر کتابتون، کمپیوټرلېب او نورې ګڼې درسي اسانتیاوې لري چې د با تجربه کادري استادانو او اداري پرسونل پرمټ یې تدریسي او اداري چارې پرمخ وړل کېږي.

غاښونو طب پوهنځی غواړي چې د غوره نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو په برخو کې په ملي او سیمه ایزه کچه د غوره پوهنځي په توګه ومنل شي.

غاښونو طب پوهنځی د معیاري تحصلي نصاب، مجهز لارتوارونو او تدریسي روغتون په لرلو سره، د با تجربه او مسلکي استادانو پر مټ، د نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو له لارې ټولنې ته د خولې جوف ناروغیو د درملنې په برخه کې وړ او په کار پوه کادرونه وړاندې کوي.

# د ستوماتولوژي ډيپارټمنټ
# لرليد، ماموريت او اهداف

## لرليد

ستوماتولوژي ډيپارټمنټ غواړي چې د معياري تدريس، علمي څېړنو او کلينيکي ستاژ په وړاندې کولو سره، د DMD په کچه داسې ډاکټران وروزي چې د ټولنې اړتياوې پوره کړي.

## ماموريت

ستوماتولوژي ډيپارټمنټ د غوره تحصيلي نصاب، مجهزو درسي اسانتياو او غابنونو تدريسي کلينيک په درلودلو سره، د کادري مسلکي استادانو پر مټ، د نظري ـ عملي تدريس، علمي څېړنو او اخلاقي روزنې له لارې، ټولنې ته د خولې جوف ناروغيو غوره روغتيايي چوپړتياو برخه کې په کار پوه او مسلکي کادرونه وړاندې کوي.

## اهداف(موخې)

- د ډيپارټمنټ اړونده چارو مشري کول.
- د تحصيلي نصاب معياري کول.
- د غوره تدريسي مېتودونو له لارې نظري او عملي تدريس وړاندې کول.
- علمي څېړنيزو فعاليتونو ته ترويج او پراختيا ورکول.
- د استادانو او محصلينو د علمي پوهې او مهارتونو لوړونه.
- د ډيپارټمنټ په کچه د کيفيت لوړونې معيارونو په اړه د پوهاوي لوړونه او تطبيق.
- د غوره درسي چاپيريال، غابنونو لابراتوارونو او کتابتون ته د ودې او پراختيا لپاره کار کول.
- په تدريسي روغتون کې د غابنونو برخې پراختيا لپاره کار کول.
- د خولې جوف روغتيا برخه کې د ټولنې د پوهاوي کچې لوړولو کې ونډه اخيستل.
- د استادانو او مسلکي اشخاصو پر مټ د علمي کنفرانسونو او ورکشاپونو وړاندې کول.

**د طبي لوړو زده کړو معياري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

# اسانتياوې

